# Body of Principles for the Protection of All Persons under Any Form of Detention or Imprisonment

Adopted by United Nations General Assembly resolution 43/173 of 9 December 1988

د ټولو توقیف شوؤ کسانو چې په یوه  شکل یا بل بندیان شوي وي د حمایې داصولو

مجموعه

چې په۱۹۸۸  کال د دسمبر په نهمه د عمومي اسامبلې له خوا په خپل۴۳  /۱۷۳ لمبر پریکړه

کې تصویب شوه

# د تولو توقيف شؤ کسانو چې په يوه  شکل يا بل بنديان شوي وي د حمايې داصولو مجموعه

## چې په١٩٨٨  کال د دسمبر په نهمه د عمومي اسامبلې له خوا په خپل٤٣ /١٧٣ لمبر پرېکړه کې تصويب شوه

### د تولو اصولونو اغېزه

دا اصول په ټولو هغو کسانوتطبيقېږي چې په يوه شکل يا بل شکل توقيف يا بندي شوي وي.

### د اصلاحاتواستعمال

د ټولو اصولو په منظور:

الف)  د « نيولو» د کلمې مفهوم دا دی چې يو څوک له قانون څخه د سر غړونې له امله د يوه صلاحيت لرونکې چا له خوا گرفتار شي؛

ب)  د  «نيول شوي کس»  د کلمې مقصد دا  دی چې يو څوک د  يوه جرم  په گنا له محاکمې  پرته له انفراديآزادۍ څخه محروم کړی شوی وي؛

پ)  د «بندي کس» معنا دا ده چې يو څوک دې د يوه جرم په گنا له محاکمې څخه وروسته له انفرادي آزادۍ څخه محروم کړی شوی وي؛

ت)  د «توقيف» لغت د هغو نيول شويو کسانو شرايط افاده کوي چې پورته يې تعريف وشو؛

ث)  د «حبس يا بند» اصطلاح د هغو بنديانو حالت افاده کوي چې پورته يې تعريف وشو؛

ج)  د «عدلي چارواکو» لغت هغو عدلي او نورو ټولو چارواکو ته پکارول کېږي چې د قانون له خوا واک ورکړی شوی وي چې قانوني مقام اود وظيفې موده يې د صلاحيت، د بې پرې توب (بې طرفی) او خپلواکی کلک تضمين ورکړی شي.

## لومړی اصل

له هر توقیف شوي کس او بندي سره چې په هر جرم نیول شوی وي، انساني رویه کېږي او بشري وقار ته یې درناوی کېږي.

## دوهم اصل

د نیولو، توقیف او بندي کولو پرېکړه یوازې هله عملي کېږي چې له قانون سره برابره وي او د هغه چا له خوا وشي چې د دې کار له پاره صلاحیت ورکړی شوی وي.

## دریم اصل

که چېرې یو څوک توقیف یا بندي شي، هېڅکله د ده په باره کې په دې پلمه چې د دې پرنسیپونو مجموعه او یا یې یوه برخه یې په رسمیت نه پېژني، د بشر هغه حقونه نه شي محدودول کېدای او استثنا نه شي ور ته راوړل کېدای چې په یوه دولت کې د قانون، میثاقونو، مقرراتو او دودونو له خوا منلي شوي وي.

## څلورم اصل

**د توقیف او د بند هر شکل چې وي او یا هره هغه پرېکړه چې د توقیف شوي یا بندي چا انفرادي حقونو ته ګواښ کوي باید د عدلي چارواکو او یا د هغه چا له خوا وکړه شي چې د عدالت تر رېښتیانۍ څارنې لاندې وي.**

## پنځم اصل

۱. دا پرنسیپونه په ټولو هغو کسانو، بې له کومه توپیره عملي کېږي چې د یوه ټاکلي دولت په خاوره کې وي. که دا توپیرونه پر توکم (نژاد)، رنګ، جنس، ژبه ، مذهبي او یا سیاسي عقیدو، مادي، معنوی او یا ټولنیزه منشأ، شتمنی یا زېږېدنه ولاړ وي او یا پر نورو معیارونو.

۲. هغه لارې چارې چې د قانون له مخې، د ښځو، په تېره اومېندوارو (حاملو) ښځو او د واړه عمر ماشومانو د میندو، ماشومانو، ژنکیو، بوډاګانو، ناروغانو او معیوبانو د ځانګړو شرایطو له مخې د دوی د ساتنې ژغورنې له پاره عملي کېږي هېڅکله تبعیضي نه ګڼلې کېږي.

## شپږم اصل

هیڅ توقیف کړی شوي کس یا بندي ته شکنجه نه ورکوله کېږي او بې رحمانه، نا انساني او سپکه رویه نه ور سره کېږي.*

## اووم اصل

۱. دولت باید داسې قانون پاس کړي چې ټول هغه اعمال منع کړي چې د انسان له حقونو څخه سر غړاوي په کې کېږي او د هغه وجیبو چې په دې پرنسیپونو کې راغلي دي،د نه مراعات د سرغړونکو له پاره جزا پکې پېش بیني شوې وي اوکه څوک شکایت وکړي بې پرې (بې طرفه) څېړنه یې وشي.

۲. که مامورین په دې شکمن شي چې د دې پرنسیپونو څخه سر غړاوی شوی،د خپلو آمرانو، او که اړتیا ورته پیښه شي، د کنترول او نورو مقاماتو د خبرولو حق لري.

۳. نوربل هر څوک چې په دې شکمن شي چې د دې پرنسیپونو څخه سر غړوای شوی او یا کېدونکی دی د دې حق لري چې د دې مامور امرانو او یا نورو چارواکو او د کنترول او یا مراجعې صلاحیت لرونکو مقاماتو ته خبر ور کړي.

## اتم اصل

له توقیف شویو کسانو سره د دوی د نه محاکمه شوي کس د شرایطو سره سمه معامله کېږي او هر وخت چې شوني شي له نورو بندیانو څخه بېلول کېږي.

## نهم اصل

چارواکي چې یو څوک گرفتارکړي، په توقیف کې یې واچوي اویا یې محکمې ته راجع کړي باید یوازې هغه صلاحیت پرې تطبیق کړي چې قانون ورته ټاکلې، او د دې صلاحیت له تطبیق څخه وروسته، عدلي چارواکو او نورو صلاحیت لرونکو مقاماتو ته دې د مراجعې امکان موجود وي.

## لسم اصل

هر گرفتار شوي کس ته د گرفتارولو په وخت کې، باید وویل شي چې ولې نیول شوی او سمدلاسه دې

له هغه تور څخه خبر شي چې پرې لګولی شوی.

## یوولسم اصل

۱. یو کس هېڅکله پرته له دې نه شي توقیف کېدلای، چې په رښتیا د یوه عدلي چارواکي له خوا یې، د خبرو د اورېدو امکانات ورته میسر نه وي. یو توقیف شوی کس حق لري چې خپله دفاع پخپله وکړي او یا د قانون سره سم یو مشاور ورسره مل کړي.

۲. بندي کس او یا یې مشاور بې له ځنډه د توقیف بشپړ امر او د دې له دلیلونو څخه خبرول کېږي.

۳. یوه عدلي چارواکي یا یوه بل چا ته صلاحیت ورکول کېږي چې په توقیف کې د ساتل کېدومناسب والی کنترول کړي.

## دوولسم اصل

۱. دا لاندې توکي دې هرومرو ثبت شي:

الف) د نیولو علت؛

ب) د ګرفتارولو ساعت، او هغه ساعت چې نیول شوی کس د لومړي ځل له پاره عدلي چارواکو ته ور وستل کېږي؛

ث) د هغه مسؤل کس شهرت چې اړوند (مربوط) قوانین تطبیقوي ؛

ج) د توقیف د ځای دقیقه پته.

۲. دا معلومات به توقیف شوي او یا د ده مشاور ته په هغه بڼه چې په قانون کې راغلي دي ورکول کېږي

## دیارلسم اصل

د چارواکو له خوا به هر هغه چا ته چې نیول کېږي، توقیفېږي او یا بندي کېږي سمدلاسه او یا ډېر زر د هغو حقونو څخه چې لري یې او چې څه ډول ګټه ترې اوچتولی شي معلومات او تشریحات ور کول کېږي.

## څوارلسم اصل

هغه څوک چې د نیولو، توقیف او یا د بند د چارواکو په ژبه نه پوهېږي د نیولو، توقیف او یا د بند په

موقع کې، سمدلاسه په هغه ژبه چې پوهېږي د هغو معلوماتو حق لري چې په لسم پرنسيپ، د يوولسم پرنسيپ په دوهم بند، د دوولسم پرنسيپ په لومړي بند او په دیارلسم پرنسيپ کې راغلي دي او کولی شي چې، که ورته اړ وي، د هغې عدلي قضيې په چوکاټ کې چې د ده له نيولو وروسته راځي په وړيا توګه د مشاور او ترجمان له لرلو څخه ګټه اوچته کړي.

## پنځلسم اصل

د هغو استثناګانو څخه پرته چې د شپاړسم پرنسيپ په څلورم بند او د اتلسم پرنسيپ په دريم بند کې راغلي دي، له باندې سره په تېره بيا د کورنۍ او يا يې له مشاور سره د توقيف شوي کس او د بندي ارتباط له څو ورځو څخه، له ډېرې مودې له پاره نه شي ردېدای.

## شپاړسم اصل

١. د بندي له نيول کېدو، توقيف او يا له يوه ځايه و بل ځای ته د لېږدولو څخه يا په خپله او يا د مسؤلو چارواکو په واسطه خپله کورنۍ او که يې و غواړي د ده د خوښې يو بل څوک، له خپلوتوقيفېدو يا د بندي کېدو او يا د بند و بل ځای ته له لېږدولو او توقيف له پتې څخه خبرولی شي.

٢. که چېرې دا ډول کس خارجي وي، سمدلاسه په دې پوهول کېږي چې دی حق لري چې په وړ وسيلو خپله قونسلګري او يا د خپل هيواد د ډيپلوماتيک هيئت سره ارتباط ونيسي او د دې صلاحيت لري چې د بين المللي قوانينو سره سم دا ډول ارتباط لاس ته راوړي. که دا کس پناهنده وي اود کومې بلې بين الدولتي موسسې ترحمايې او ژغورنې لاندې وي دا ډول اړيکې په له يوه صلاحيت اورنکي بين المللي مقام سره ټينګوي.

٣. د يوه نابالغ کس او يا د هغه چا په برخه کې چې په خپلو حقونو د پوهېدو توان نه لري صلاحيت لرونکي مقامات دې په دې پرنسيپ کې راغلي کارونه له خپله انده وکړي. دا مقامات دې په ځانګړې توګه د دې ډول کسانو مور او پلار او يا وصي د خبرولو څخه ډاډه کړي.

۴ .په دې پرنسيپ کې راغلی ياداشت دې سمدلاسه عملي شي. صلاحيت لرونکي مقامات بيا هم کولی شي که د څېړنې او تحقيق استثنايي وخت ته اړتيا ولري دا ياداشت د يوې مودې له پاره ټال کړي.

## اووه لسم لوست

١. هر توقيف شوی کس د مدافع وکيل له مرستې څخه ګټه اوچته کولی شي. صلاحيت لرونکي مقامات

يې دې له دې حق څخه له نيولو نه وروسته خورا زر خبر کړي او لازمې اسانتياوې دې ورته برابرې کړي چې دا حق ورته ميلاو شي.

۲. که يو توقيف شوی کس د مدافع وکيل و نه نيسي، دی حق لري چې د عدالت ګټې يې تقاضا کوي، چې يو عدلي چارواکی يې ورته وټاکي، که نېستمن وي، په وړيا توګه دې وي.

## اتلسم اصل

۱. هر توقيف شوی کس او بندي ته اجازه ورکړی شي چې له خپل مدافع وکيل سره ارتباط ټينګ کړي او مشوره يې وغواړي.

۲. هر توقيف کړی شوی کس او بندي ته دې لازم وخت او اسانتياوې ورکړی شي چې د خپل مدافع وکيل سره خبرې اترې وکړي.

۳. دا حق چې هر توقيف شوی کس او هر بندي اجازه ولري چې بې له ځنډه او بې له کومه سانسوره، په بشپړه رازدارۍ کې له خپل وکيل سره ارتباط ټينګ کړی شي، چې وکيل يې ورته راشي، يا يې مشوره ترې وغواړي او يا ارتباط ور سره ټينګ کړي.، په هيڅ ډول پرته له هغو استثنايي حالتونو چې قانون او د هغو مقرراتو چې له قانون سره سم وي مشخص کړي وي او په هغو کې عدلي چارواکي او نور څوک د امنيت او د نظم د تامين په خاطر يې لازم وګڼي نه ځنډېدلی او نه محدودېدلی شي.

۴. د توقيف شوي يا بندي او د مدافع وکيل تر منځ يې خبرې اترې د قانون د تطبيق د مامور تر څارنې لاندې کېدې خو غوږ نه شي ورته نيولی.

## نولسم اصل

هر توقيف شوی کس او بندي دا حق لري چې څوک يې، په تېره د کورنۍ غړي يې ليدو ته راشي، او په تېره له همدوی سره مکاتبه ولري، داسې لازم امکانات ورته برابر شي چې له باندې سره، په دې شرط چې قانون و هغو مقرراتو چې په معقوله توګه له قانون سره سم نه وي محدود کړي ارتباط ټينګ کړي.

## شلم اصل

که توقيف کړی شوی کس يا بندي وغواړي، د امکان په صورت کې به د خپلو اوسېدو سيمې ته نژدې توقيف يا بندي کېږي.

## یوویشتم اصل

۱. د توقیف شوي کس یا بندي له موقعیت څخه دا  ناوړه ګټه اوچتول منع ده چې مجبور کړی شي چې اعتراف وکړي، ځان ګنهکار وګڼي او یا په بل چا شاهدي ور کولو ته اړ ایستلی شي.

۲. د ګرویږنې او استنطاق په وخت کې له توقیف کړی شوي کس سره له شدیدو اعمالو، ګواښ او د ګرویږنې له داسې مېتودونو څخه کار اخستل منع دي چې د ده تمیز او د تصمیم نیولو ظرفیت په خطر کې واچوي.

## دوه ویشتم اصل

په هیڅ یوه توقیف شوي کس او بندي، که په رضا هم وي ،داسې طبي اوعلمي تجربې منع دي چې روغتیا ته یې زیان ورسوي.

## درویشتم اصل

۱. د توقیف کړی شوي کس او یا بندي د تحقیقاتو او د دؤ تحقیقاتو تر منځ د تټال موده او همدارنګه د تحقیقاتو د مامورینو او د بل هر چا نومونه چې ګډون یې پکې کړی وي باید په هغه شکل چې په قانون کې راغلي وي ثبت او تصدیق شي.

۲. توقیف شوي کسان، بندیان او د هغوی سلاکار، که په قانون کې راغلي وي، هغه ټول معلومات کتلی شي چې د دې پرنسیپ په لومړي بند کې ذکر شول.

## څلور ویشتم اصل

د هر توقیف شوي چا او بندي د توقیفېدو او بندي کېدو څخه وروسته لومړی دېره زر طبي معاینه کېږي، بیا یې وروسته هر کله چې ناروغ شي وړیا درملنه کېږي.

## پنځه ویشتم لوست

هر توقیف شوی کس یا بندي او یا یې سلاکار، په دې شرط چې په منطقي ډول د توقیفېدو او یا د بند نظم او امنیت ګډوډ نه شي، له عدلي چارواکو څخه د دوهمې طبي معاینې یا دوهم طبي نظر غوښتنه کولی شي.

## شپږ ویشتم اصل

کله چې توقیف شوی کس یا بندي د ډاکټر له خوا وکتل شي، د ډاکټر نوم او د معاینو نتیجې دې په ځیرتیا سره ثبت شي، دې معلوماتو ته دې، د داخلي مقرراتو سره سم، د دسترس امکان موجود وي.

## اووه ویشتم اصل

که د ثبوت د لاس ته راوستلو له پاره د دې پرنسیپو څخه سر غړاوی شوی وي دا به تر نظر لاندې وساتل شي چې د توقیف شوي چا او یا بندي پر ضد دا وړاندې شوي ثبوتونه ومنل شي او که نه.

## اته ویشتم اصل

هر توقیف کړی شوی کس حق لري، چې د مالي منابعو په اندازه که دا منابع د دولت له خوا ور کول کېږي، تعلیمي،کلتوري او د اطلاعاتو وسایل لاسته راوړي خو په دې شرط چې د توقیف او بند په چاپېریال کې نظم او امنیت ته تاوان و نه رسوي.

## نهه ویشتم اصل

۱. د دې له پاره چې د قوانینو او مقرراتو درناوی وشي ،د توقیف ځای او بندي خانې باید په باقاعده ډول د پوهو او تجربه لرونکو اشخاصو له خوا چې صلاحیت لرونکو چارواکو ټاکلي وي، او له هغو اشخاصو څخه بېل وي چې د توقیف او د بند د ځایونو اداره ور په غاړه او دوی ته مسؤل دي، وکتل شي.

۲. هر توقیف شوی کی او بندي حق لري چې په آزاده توګه اوچې د راز ساتل په کې مراعات شوي وي له هغه چا سره چې د دې اصل د لومړني بند سره د توقیف ځای یا بندي خانه ګوري، خبرې وکړي؛ خو په دې شرط چې په دې ځایونو کې نظم او امنیت ته زیان ونه رسوي.

## یو دېرشم اصل

صلاحیت لرونکي مقامات دې هڅه وکړي چې د داخلي مقرراتو سره سم، که اړتیا ورته وي،د هغو چا سره چې د توقیف شوي چا یا د بندي په غاړه وي، څارنه وکړي  په تېره بیا د ماشومانو او د هغه کورنۍ، او دا اندېښنه ورسره وي چې د ماشومانو ساتنه یې بې څارنې پاتې نه شي.

## دوه دېرشم اصل

۱. هرتوقیف شوی کس یا بندي او یا د هغه مشاور حق لري چې په هر وخت کې، د داخلي مقرراتو سره سم عدلي چارواکو یا نورو ته مراجعه وکړي او د توقیف یا د بندیتوب اعتراض وکړي، که چېرې دا توقیف یا بند په قانون برابر نه وي سمدلاسه خپله آزادي بیا مومي.

۲. د دې پرنسیپ په لومړي بند کې راغلې که دعوه لنډه او پېچلې نه وي باید نېستمنو کسانو ته وړیا وي. د توقیف چارواکي دې توقیف شوی کس له نا معقول ځنډ څخه پرته د مراجعې هغو مقاماتو ته ور ولي چې عرض ورته شوی.

## درې دېرشم

۱. هر توقیف شوی کس، یا بندي او یا د هغه مشاور له هغو کړو وړو په تېره له شکنجې او یا بلې بېرحمانه، نا انسانی او سپکونکې رویې څخه، د توقیف ځای یا د بندیخاني اداره کونکو، د هغوی آمر او که اړتیا ورته وي، د کنترول او د مراجعې صلاحیت لرونکو چارواکو ته عرض یا شکایت وشي.

۲. که چېرې نه توقیف شوی کس، یا نه بندي او نه یې سلاکار (مشاور) د دې اصل په لومړي بند له راغلو امکاناتو څخه ګټه نه شی اوچتولی، د توقیف شوي کس یا د بندی د کورنۍ یو غړی یا کوم بل څوک چې خبر دي کولی شي چې دا حق وغواړي.

۳. که عارض یې وغواړي د دې عرض یا شکایت محرمیت باید وساتل شي.

۴. په هر عرض اوشکایت دې بې له ځنډه غور وشي او په لنډه موده کې دې ځواب ور کړل شي. که شکایت یا عرض رد شي او یا یې ځواب ډېر وځنډېږي، عارض ته اجازه ورکول کېږي چې عدلي چارواکو او یا بل چا ته عرض وکړي. نه دې د توقیف شوي کس، نه دې بندي او نه دې کوم بل چا ته، چې د دې اصل په لومړي بند کې راغلي دي. د دې له امله چې عرض یا شکایت یې کړی، تاوان نه رسېږي.

## څلور دېرشم اصل

که یو توقیف شوی کس یا بندي د توقیف یا د بند په موده کې ومري او یا بې درکه شي، عدلي چارواکي به یا له خپله انده، یا د توقیف شوي کس یا د بندي د خپلوانو او یا د هر هغه کس په عرض چې له دې پېښې څخه خبر دی، د مړینې یا بې درکۍ د علتونو د څېړلو له پاره د تحقیق امر ور کړي. که حالاتو

غوښتل، یو ورته تحقیق به په دې صورت کې هم سر ته رسول کېږي چې که توقیف شوی کس یا بندي له ایله کېدو څخه وروسته ډېر زر ومري او یا بې درکه شي. که وغوښتل شي د دا راپور نتیجه به میلاویدای شي خو په دې شرط چې دا کار روان جنایي تحقیق ته زیان و نه رسوي.

## پنځه دیرشم اصل

۱. د هغو زیانونو تاوان به د داخلي حقونو له متن سره سم ګالل کېږي چې د دولت د یوه مامور د عمل یا د تېروتنې لامله د هغو حقونو په تر پښو لاندې کولو منځ ته راځي چې په دې اصولو کې راغلي دي.

۲. د دې اصل له روحیې سره به دا معلومات د تاوان د غوښتنې په منظور ثبت شي او د داخلي حقونو له متن سره سم وکتل شوای شي.

## شپږ دیرشم اصل

۱ .هر توقیف شوی څوک چې د جزایي سرغړاوي شک پرې راځي اویا تورن وي بې ګنا ګڼل کېږي. نو باید تر هغه وخته چې د یوې برلا محاکمې په ترځ کې یې، چې په هغې کې د خپل سپیناوي (دفاع) له پاره ټول لازم تضمینونه ورته میلاوشوي وي؛ ګنا ثابته نه شي د بې ګنا کس په څېر کړه وړه ورسره وشي.

۲. هېڅ شکمن یا تورن کس، پرته له دې چې اداري او عدلي اړتیا موجوده وي او یا د دعوا د هغه شرایطو له مخې چې قانون پېش بیني کړي وي د محاکمې په انتظارکې نیول کېدای یا بندي کېدای نه شي. پر دې ډول په اشخاصو فشار اچول که د محکمې د سم جریان او یا د عدالت د ادارو په مخ کې خنډ نه اچوي او یا په توقیف ځای کې د امنیت او نظم نه ګډوډوي، منع دی.

## اووه دیرشم اصل

هر توقیف شوی کس چې په کوم جرم تورن وي، له نیولو څخه وروسته، په لنډه موده کې عدلي چارواکو ته او یا بل هغه چا ته، چې په قانون کې پیشبیني شوې وي ور وستل کېږي. دا چارواکي د توقیف په قانوني توب او اړتیا پرېکړه کوي. هېڅ چوک د محاکمې د پرانیستل کېدو په انتظار کې د چارواکو له لیکل شوي امر څخه پرته په توقیف کې نه ساتل کېږي. هر توقیف شوی کس چې دې چارواکو ته ور وستل شي حق لري چې وواېي چې د نیولو په دوران کې چه ور کړه وړه ور سره کېدل.

## اته دېرشم اصل

په جزايي جرم په تورن بايد په يوه معقوله موده کې قضاوت وشي او يا دې د محاکمې په انتظار کې له بنده آزاد شي.

## نهه دېرشم اصل

له هغه ځانګړي حالت څخه پرته چې په قانون کې يې پېش بيني شوې، يو په جزا تور توقيف شوی کس، که عدلي چارواکي د عدالت د ګټو په خاطر بل ډول پرېکړه وکړي، حق لري چې د محکمې د نېټې ترپيله پورې آزاد کړی شي، خو په دې شرط چې قانون کوم محدوديت نه وي ټاکلی. چارواکي د توقيف ته د اړتيا د سوال څېړنه کوي.

## عمومي فقره

د دې ټولو اصلو هيڅ يوه ماده دې د هغه حقونو د محدوديت يا نقض په شان نه تعبېرېږي چې د مدني او سياسي حقونو په نړيوال ميثاق کې راغلي دي.

* د «بېرحمانه، ناانساني او سپکوونکي جزا کړو وړو» اصطلاح دې داسې تعبير شي چې په خورا پراخه توګه دې د ټولو ناوړو رويو څخه، که بندي وي او که روحي ژغورنه وشي، چې البته توقيف شوی کس يا بندي په داسې حالت کې ساتل چې په موقتي ډول او يا په دايمي توګه د حواس، لکه د ليدو يا له اورېدو څخه بې برخې کول او يا د زمان د تېرېدو او د هغه ځای له ادراک څخه محرومول چې دوی پکښې دي هم په دې ډله کې راځي.